# دافغانستان انتقالي اسلامي دولت

## د عدليې وزارت

# رسمي جريده

## فوق العاده ګڼه

### له ارتشاء او اداري فساد سره د مبارزې قانون

دچاپ نېټه : د ۱۳۸۳ هـ.ش کال د تلې د مياشتې (۲۰) ــ پرله پسې ګڼه (۸۳۸)

## در این شماره:

۱- فرمان شماره (۷۷) مؤرخ ۱۳۸۳/۷/۷ رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان در مورد انفاذ قانون مبارزه علیه ارتشاء و فساد اداری.

۲- قانون مبارزه علیه ارتشاء و فساد اداری.


د امتیاز خاوند : دعدلیې وزارت

مسؤول چلوونکی : شاه جهان "بېگزاد"

مرستیال : نور علم

# رسمي جريده

د عدليې وزير محترم قانونپوه عبدالرحيم کريمي !

له ارتشاء او اداري فساد سره د مبارزې قانون چې د ۱۳۸۳/۷/۶ نېټې د (۳۰) ګڼې مصوبې پر بنسټ د وزيرانو د عالي مجلس لخوا په (۳) فصلونو او (۱۵) مادو کې تصويب او زمونږ له لوري منظور شوی دی ، تاسوته درواستول شو چې په رسمي جريده کې يې په خپرولو اقدام وکړئ .

حامد کرزی

د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رئيس

محترم قانونپوه عبدالرحيم کريمی وزير عدليه !

قانون مبارزه با ارتشاء و فساد اداری که به اساس مصوبهٔ شماره (۳۰) مؤرخ ۱۳۸۳/۷/۶از طرف مجلس عالی وزراء بداخل (۳) فصل و (۱۵) ماده تصويب و از جانب ما منظور گرديده است ، به شما ارسال شد تا به نشر آن در جريدهٔ رسمی اقدام نمائيد .

حامد کرزی

رئيس دولت انتقالی اسلامی افغانستان

له ارتشاء او اداري فساد سره د مبارزې د قانون د انفاذ په هکله ، د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت د رئيس

فرمان

ګڼه (۷۷)

نېټه : ۱۳۸۳/۷/۷

لومړۍ ماده :

له ارتشاء او اداري فساد سره د مبارزې قانون چې د ۱۳۸۳/۷/۶ نېټې (۳۰) ګڼې مصوبې پر بنسټ د وزيرانو د عالي مجلس لخوا په(۳)فصلونواو (۱۵) مادو کې تصويب شوی دی ، توشېح کوم .

دوه يمه ماده :

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې خپور شي .

حامد کرزی

د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت

رئيس

فرمان

رئيس دولت انتقالی اسلامی افغانستان د رمورد انفاذ قانون مبارزه با ارتشاء و فساد اداری

شماره : (۷۷)

تاريخ : ۱۳۸۳/۷/۷

مادۀ اول :

قانون مبارزه باارتشاءوفساداداری را که به اساس مصوبۀ شماره(۳۰) مؤرخ ۱۳۸۳/۷/۶ازطرف مجلس عالی وزراءبه داخل(۳)فصل و(۱۵) ماده تصويب گرديده،توشيح ميدارم.

مادۀ دوم :

اين فرمان از تاريخ توشيح نافذ و در جريدۀ رسمی نشر گردد .

حامد کرزی

رئيس دولت انتقالی اسلامی

افغانستان

## له ارتشاء او اداري فساد سره د مبارزې قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

مبني :

لومړۍ ماده :

دغه قانون د اساسي قانون د پنځوسمې مادې او د پنځه اويايمې مادې د دریيم جزء د حکمونو په رڼاکې ، په ټولو دولتي ادارو ، تصديو او هغو ګډو (مختلطو) خصوصي او غير دولتي مؤسسو کې چې له دولتي ادارو سره د قرار داد يا معاملې يو اړخ وي ، د ارتشاء او فساد پر خلاف د مبارزې په منظور وضع شوی دی .

مسؤوله اداره :

دوه يمه ماده :

(۱) د ارتشاء او اداري فساد د جرمونو پر خلاف په مبارزې پورې د اړوندو

## قانون مبارزه عليه ارتشاء و فساد اداری

## فصل اول

## احکام عمومی

مبنی :

مادهٔ اول :

این قانون در روشنی احکام مادهٔ پنجاهم وجزءسوم مادهٔ هفتاد وپنجم قانون اساسی به منظور تنظیم امور مربوط به مبارزه علیه ارتشاء و فساد درتمام ادارات دولتی،تصدیها و مؤسسات مختلط ، خصوصی وغیر دولتی ایکه طرف قراردادیامعامله با ادارات دولتی باشد،وضع گردیده است.

ادارهٔ مسؤول :

مادهٔ دوم :

(۱) مرجع اساسی بازرسی و تنظیم امور مربوط به مبارزه علیه

چارو د څېړنې او تنظيم بنسټيزه مرجع ، د ارتشاء او اداري فساد پر خلاف د مبارزې اداره ده چې په خپلواکه توګه د جمهور رئيس تر نظر لاندې فعاليت کوي .

(۲) د ارتشاء او اداري فساد پر خلاف د مبارزې اداره ، په خپلو اجراآتو کې د دې قانون او د نورو نافذو تقنيني سندونو حکمونه دعمل ملاک ګرځوي .

اصطلاحګانې :

دريمه ماده :

لاندې اصطلاحګانې پدې قانون کې لاندېنی معنا وې افاده کوي :

۱– اداره:د قضاء ،څارنوالی ،وسله وال پوځ ، پوليسو او ملي امنيت په ګډون له ټولو دولتي ادارو او هغو تصديو، ګډو (مختلطو) ، خصوصي او غير دولتي مؤسسو څخه چې په يو ډول نه يو ډول له دولت سره په معامله کې وي ، عبارت ده .

جرائم ارتشاء و فساد اداری، ادارهٔ مبارزه عليه ارتشاء و فساد اداری بوده که به صورت مستقل تحت نظر رئيس جمهور فعاليت مينمايد.

(۲) ادارهٔ مبارزه عليه ارتشاء و فساداداری دراجراآت خويش احکام اين قانون و سائر اسناد تقنينی نافذ را ملاک عمل قرار ميدهد.

اصطلاحات :

مادهٔ سوم :

اصطلاحات آتی دراين قانون مفاهيم ذيل را افاده مينمايد :

۱– اداره : عبارت است از تمام ادارات دولتی اعم از قضاء، څارنوالی، قوای مسلح، پوليس و امنيت ملی، تصديها ومؤسسات مختلط، خصوصی و غير دولتی که به نحوی از انحاء در معامله با دولت قرار ميگيرند.

٢– رشوت : د جزاء د قانون له (٢٥۴ څخه تر ٢٦٧) پورې مادو کې له درج شوو مفاهيمو څخه عبارت دی .

٣– اداري فساد : د قانون خلاف عمل دی چې د شخصي يا ډله ايزو هدفونو او ګټو د ترلاسه کولو په مقصد ، د دولتي کارکوونکو او د عامه خدمتونو د نورو مؤظفينو په واسطه په لاندې شکلونو سره صورت مومي :

– اختلاس او غدر .

– د سندونو غلا کول.

– د رسمي پاڼو او سندونو ضايع کول .

– د قانوني واک له حدودو څخه تېری کول .

–په شخصي چاروکې له دولتي امکاناتو او رسمي وختونو څخه استفاده کول .

– له قانوني عذر پرته له دندې څخه ډډه کول او استنکاف.

– د حقيقت پټول (کتمان) .

– د سندونو جعلول او تزويرول .

٢– رشوت : عبارت از مفاهيم مندرج مواد ( ٢٥۴ الی ٢٦٧) قانون جزاء ميباشد.

٣– فساد اداری : عمل خلاف قانون است که توسط کارکنان دولتی و ساير مؤظفين خدمات عامه به مقصد حصول اهداف و منافع شخصی و يا گروهی به اشکال ذيل صورت ميگيرد :

– اختلاس و غدر.

– سرقت اسناد.

– اتلاف اوراق و اسناد رسمی .

– تجاوزاز حدود صلاحيت قانونی .

– استفاده از امکانات دولتی و اوقات رسمی در امور شخصی .

– امتناع و استنکاف از وظيفه بدون عذر قانونی .

– کتمان حقيقت.

– جعل و تزوير اسناد .

– د چارو د اجراء يا امتناع د واک ښودل چې د عامه خدمتونو د مؤظف دنده نه وي .

–دقانوني واک له حدودوڅخه تېرى كول.

– په اړوندو چاروکې د کار د اجراء په منظور د هر ډول تحفې اخيستل .

– د سپارل شوې دندې په اجراآتو کې بې سببه تعلل کول.

– دوګړو په وړاندې د عامه خدمتونو د مؤظفينو د ناوړه چال چلند كول .

– تطميع ، سپارښتنه ، غير قانوني التماس او واسطه کېدل .

– په ټاکنو او استخدام کې د قومي ، سيمه ايزو ، مذهبي ، ژبنيو ، ګوندي ، جنسي او شخصي ملاحظاتو په پام کې نيول .

۴– د عامه خدمتونو مؤظفين : د جزاء د قانون په (۱۲) ماده کې له درج شوي مفهوم څخه عبارت دي .

– وانمود ساختن صلاحيت اجراء و يا امتناع از اموريكه وظيفهٔ مؤظف خدمات عامه نباشد .

– تجاوز ازحدود صلاحيت قانونى .

– اخذ هر نوع تحفه به منظور اجراى كار در امور مربوط.

– تعلل بى مورد در اجراآت وظيفهٔ محوله .

– رويهٔ سوء مؤظفين خدمات عامه دربرابر افراد .

– تطميع، سفارش، التماس غير قانونى و واسطه شدن.

– دخيل ساختن ملاحظات قومى، منطقوى، مذهبى،لسانى، حزبى، جنسى وشخصى درانتخاب واستخدام .

۴– مؤظفين خدمات عامه : عبارت از مفهوم مندرج مادهٔ (۱۲) قانون جزاء ميباشد.

۵- څېړنه : پدې قانون کې د درج شوو جرمونو د آثارو او علايمو او د ترلاسه شوو اطلاعاتو بربناء د دې مادې په (۱) جزء کې د درج شوو وزارتونو او ادارو د اجراآتو له غوروني (بررسي) څخه عبارت ده چې د ارتشاء او اداري فساد برخلاف د مبارزې د ادارې د مؤظفينو په واسطه صورت مومي.

**هدفونه :**

**څلورمه ماده :**

د دې قانون هدفونه عبارت دي له :

۱- په ادارو کې د فساد د علتونو او انگېزو تشخيصول او د هغو دله منځه وړلو لپاره د لازمو او اغېزناکو تدبيرونو نيول .

۲- د ادارو او له دولت سره په معامله او يا قرار داد کې د طرف بنسټونو د اجراآتو دشفافيت لوړول.

۵- بازرسی : عبارت است از بررسی ایکه از اجراآت وزارت ها و ادارات مندرج جزء (۱) این ماده توسط مؤظفین ادارهٔ مبارزه علیه ارتشاء و فساد اداری بر مبنای اطلاعات حاصله و آثار و علایم جرایم مندرج این قانون صورت میگیرد .

**اهداف :**

**مادهٔ چهارم :**

اهداف این قانون عبارت اند از :

۱- تشخیص علل و انگیزه های فساد در ادارات و اتخاذ تدابیر لازم و مؤثر جهت از بین بردن آن .

۲- ارتقاء شفافیت در اجراآت ادارات و نهادهای طرف معامله و قرارداد با دولت .

۳- د ادارودمشکوکو مالي او اقتصادي فعالیتو څېړنه په داسې ډول چې د ملي اقتصاد د پرمختیا ، ټولنیزې ودې او د عامه شتمنیو د دقیقې حساب ورکونې له سموالي څخه د ډاډ دترلاسه کولو باعث وګرځي .

۴- د هغو مرکزي او ولایتي ادارو د مالي او اقتصادي فعالیتونو او کاري مؤثریت تحلیلول او ارزونه چې په هغو کې د رشوت او اداري فساد اشتباه موجوده وي .

۵- د دې قانون د دریېمې مادې په (۱) جزء کې په درج شوو ادارو کې د رشوت د جرم او ډول ډول اداري فساد پر خلاف دوامداره مبارزه کول .

٦- د واک په حدود کې د خلکو په وړاندې د سالمې ، کارور او مسؤولې اداري د رامنځته کولو لپاره دوامداره هڅه کول.

۷- د قانون د حکم مطابق له عامه مالونو او نورو شتمنیو څخه د ساتنې او

۳- بازرسی فعالیت های مالی و اقتصادی مشکوک ادارات به نحوی که منجر به تقویت و انکشاف اقتصاد ملی،رشد اجتماعی و حصول اطمینان از صحت حساب دهی دقیق دارائی های عامه گردد .

۴- تحلیل و ارزیابی فعالیت های مالی و اقتصادی و مؤثریت کاری ادارات مرکزی وولایتی ایکه در آن اشتباه رشوت وفساد اداری موجود باشد .

۵- مبارزهٔ دوامدار علیه جرم رشوت و انواع فساد اداری در ادارات مندرج جزء (۱) مادهٔ سوم این قانون .

٦- سعی مستمر برای ایجاد ادارهٔ سالم، کار آمد و مسؤول در برابر مردم درحدود صلاحیت .

۷- بازرسی از چگونگی حراست و مراقبت از اموال و سایر دارائی های

ځارنې د څرنګوالي خبرنه .

۸- د اداري فساد دله منځه وړلو په منظور د نورو دولتي ادارو د همکارۍ او مرستې جلبول .

۹- د قانون ماتوونکو افرادو او ادارو پیژندنه او د عدلي تعقیب په غرض واکمنو مراجعو ته د هغو ور پیژندل .

## دوه یم فصل

## دندې او واکونه

دندې :

پنځمه ماده :

د ارتشاء او اداري فساد پر خلاف د مبارزې اداره د لاندې دندولرونکې ده :

۱- د ارتشاء او ډول ډول اداري فساد پرخلاف دمبارزې په کار کې د دولت د پالیسۍ طرح کول اوددولت د ریاست د مقام له منظورۍ ورروسته دهغې تطبیقول.

۲- د دې قانون د حکمونو د تطبیق لپاره د فعال او اغېزناک میکانیزم جوړول او د هغهٔ پر تطبیق باندې ځارنه .

عامه مطابق احکام قانون .

۸- جلب همکاری و کمک سائر ادارات دولتی به منظور از بین بردن فساد اداری .

۹- شناسائی افراد وادارات قانون شکن ومعرفی آنها غرض تعقیب عدلی به مراجع ذیصلاح .

## فصل دوم

## وظایف و صلاحیت ها

وظائف :

مادهٔ پنجم :

ادارهٔ مبارزه علیه ارتشاء و فساد اداری دارای وظائف ذیل میباشد :

۱- طرح پالیسی دولت در امر مبارزه علیه ارتشاء وانواع فساد اداری و تطبیق آن بعد از منظوری مقام ریاست دولت .

۲- ایجاد میکانیزم فعال و مؤثر جهت تطبیق احکام این قانون و نظارت بر اجرای آن .

۳- د ســـالمې اداري د جوړولـــو لپاره د اغېزناكو او مناسبو لار و چارو د پيداكولو په غـرض د لازمـو كتنـو (مطالعاتو) تر سره كول .

۴- د هغو علتونو او اسبابو تشخيصول چې د عامې اداري په سيستم كې د فساد د رامنځته كېدو موجب گرځي .

۵- له اداري فساد څخه د مخنيوي په كاركې له مادي او تخنيكي امكانـاتو څخه د معقولې كتې اخيـستنې د لارو چارو په هكله د مشورې وړاندې كول .

۶- په ادارو كې په ارتشاء او فـساد پـورې د اړونـدو چـارو څېـړل .

۷- د دولت د رياست مقام ته د اداري د اجراآتو او لاسته راوړنو په هكلـه د منظم رپوټ وړاندې كول .

۸- د عامې خبرتيـا لپـاره د اداري د كلنيو فعاليتونو د مفصل رپوټ خپرول .

۹- د عامه خـدمتونو د مؤظفينـو د شتمنيو د ثبت لپاره د معلوماتي مركـز جوړول .

۳- انجام مطالعـات لازم جهـت دريافـت شـيوه هـاى مـؤثر و مناسـب بمقـصد ايجـاد ادارهٔ سالم .

۴- تشخيص علـل و اسـبابيكه موجب ايجاد فساد در سيستم ادارهٔ عامه ميگردد .

۵- ارائه مشوره در مورد شيوه هاى استفادهٔ معقول از امكانات مادى و تخنيكى در امر جلوگيرى از فساد ادارى .

۶- بازرسى از امور مربـوط بـه ارتشاء و فساد در ادارات.

۷- ارائه گزارش منظم در مـورد اجراآت و دست آوردهاى اداره به مقام رياست دولت .

۸- نشر راپور مفصل فعاليت هاى سالانهٔ اداره جهت آگاهى عامه .

۹- ايجاد مركز معلوماتى براى ثبت دارائى هـاى مـؤظفين خـدمات عامه .

۱۰- په مرکز او ولایتونوکې د اړوندې کاري اغېزمنتیا او ظرفیت د لوړولو په غرض د کورسونو ، سیمینارونو ، ورکشاپونو او کنفرانسونو دایرول .

۱۱- د دوستو دولتونو او نړیوالو مؤسسو له مماثلو ادارو سره د مناسباتو او توأمیتونوبرقرارول او هغو ته پراختیا ورکول.

۱۲- د مرکزي او ولایتي ادارو دمالي او اقتصادي فعالیتونو د کاري اغېزمنتیا او شفافیت دلوړولو په غرض د لازمو تدبیرونو د نیولو وړاندیز کول.

۱۳- نورې هغه دندې چې د جمهور رئیس لخوا هغو ته سپارل کېږي .

## واکونه :

### شپږمه ماده :

د ارتشاء او اداري فساد پر خلاف د مبارزې اداره د لاندې واکونو لرونکې ده :

۱۰- تدویر کورس ها ،سیمینار ها، ورکشاپ ها و کنفرانس ها غرض ارتقاء مؤثریت و ظرفیت کاری مربوط در مرکز و ولایات .

۱۱- برقراری و توسعهٔ مناسبات و توأمیت ها با ادارات مماثل دول متحابه و مؤسسات بین المللی .

۱۲- پیشنهاد اتخاذ تدابیر لازم غرض ارتقای مؤثریت کاری و شفافیت فعالیت های مالی و اقتصادی ادارات مرکزی وولایتی .

۱۳- سائر وظایفی که از جانب رئیس جمهور به عهده آن گذاشته می شود .

## صلاحیت ها :

### مادهٔ ششم :

ادارهٔ مبارزه علیه ارتشاء و فساد اداری دارای صلاحیت های ذیل میباشد :

١- د عدلي تعقيب په غرض پدې قانون کې د درج شوو د ارتشاء او اداري فساد دجرمونو د شکمنو (مظنونينو) د معرفي کولو لپاره د بيړنيو تصميمونو نيول .

٢- د دې مادې په (١) جزء کې د درج شوو تصميمونو د تطبيق دڅرنګوالي تعقيبول او د ډاډ ترلاسه کول .

٣- له ارتشاء او اداري فساد سره د مبارزې په ډګر کې د قوانينو ، فرمانونو او نورو تقنيني سندونو له تطبيق او رعايت څخه د ډاډ تر لاسه کول .

٤- د هغو ادارو د اجراآتو د درولو (توقف) په هکله د لارښوونو صادرول چې نه شفافيت او اغېزمنتيا يې د څېړنې په مهال تثبيتېږي .

٥- د لزوم په صورت کې د څېړل شوو سندونو نوې (بيا) ارزونه .

٦- له ادارو څخه د اړتيا وړ سندونو غوښتنه .

١- اتخاذ تصاميم عاجل جهت معرفی مظنونین جرایم ارتشاء و فساد اداری مندرج این قانون غرض تعقیب عدلی .

٢- تعقیب و حصول اطمینان از چگونگی تطبیق تصامیم مندرج جزء (١) این ماده .

٣- حصول اطمینان از تطبیق و رعایت قوانین ، فرامین و سائر اسناد تقنینی در عرصهٔ مبارزه علیه ارتشاء و فساد اداری.

٤- صدور هدایات در مورد متوقف ساختن اجراآت اداراتیکه عدم شفافیت و مؤثریت آن حین بازرسی تثبیت میگردد .

٥- درصورت لزوم ارزیابی مجدد اسناد بررسی شده .

٦- مطالبهٔ اسناد مورد ضرورت از ادارات .

۷- په تر څېړنې لاندې موضوعګانو کې د توضيح کولو او مشورې ورکولو لپاره د کورنيو ادارو د مسؤولينو او اهل خبره وو را بلل .

۸- له اداري فساد څخه د رامنځته شوو شکايتونو د څېړنې په غرض د ادارو د مسؤولينو د همکارۍ جلبول .

۹- په ترکار لاندې ادارو کې د حساب اخيستنې له سموالي او د عامه شتمنۍ له ساتنې څخه د ډاډ تر لاسه کول .

۱۰- پدې قانون کې د درج شوو جرمونو په ارتکاب کې د هغو د مؤظفينو د شکمنتوب په صورت کې د ادارو دمالي او اقتصادي فعاليتونو او له مؤسسو، شرکتونو او د خدمتونو له برابروونکوانفرادي اشخاصوسره د ادارو د عقد شوو قرار دادونو د ګټې د تحقق دڅرنګوالي دبهير، عيني څېړنه .

۷- دعوت مسؤولين ادارات داخلی و اهل خبره جهت توضيح و ارائه مشوره در موضوعات تحت بازرسی .

۸- جلب همکاری مسؤولين ادارات غرض رسيدگی به شکايات ناشی از فساد اداری .

۹- حصول اطمينان از صحت حساب گيری و حراست دارائی های عامه در ادارات تحت کار .

۱۰- بازرسی عينی از جريان فعاليت های مالی و اقتصادی ادارات و چگونگی تحقق مفاد قرار داد های عقد شدهٔ ادارات با مؤسسات ، شرکت ها و اشخاص انفرادی تدارک کنندهٔ خدمات در صورت مظنون بودن مؤظفين آنها به ارتکاب جرائم مندرج اين قانون .

## درېيم فصل
## متفرقه حکمونه

تشکيل :

اوومه ماده :

د ارتشاء او اداري فساد پر خلاف د مبارزې اداره د مرکزي او حوزوي تشکيلاتو لرونکې ده چې د هغې د رئيس لخوا وړانديز او د قانون مطابق منظورېږي .

د سيمه ايزو (محلي) ادارو د قضاياوو غورونه :

اتمه ماده :

د ولايتونو او دهغو د اړوندو ولسواليو د ارتشاء او اداري فساد قضيې د ارتشاء او اداري فساد پر خلاف د مبارزې د حوزه وي مرکز لخوا چې د هغو په ساحه کې واقع دی ، څېړل کېږي .

## فصل سوم
## احکام متفرقه

تشکيل :

مادهٔ هفتم :

ادارهٔ مبارزه عليه ارتشاء و فساد اداری دارای تشکيلات مرکزی و حوزه وی ميباشد که از طرف رئيس آن پيشنهاد ومطابق احکام قانون منظور ميگردد .

رسيدگی به قضايای ادارات محلی :

مادهٔ هشتم :

قضايای ارتشاء و فساد اداری ولايات و ولسوالی های مربوط آنها توسط مرکزحوزوی ادارهٔ مبارزه عليه ارتشاء وفساد اداری که در ساحهٔ آن قراردارند،بازرسی ميگردد.

د ادارو همکاري :

نهمه ماده :

اداري مکلفې دي پدې قانون کې د درج شوو هدفونو په تحقق کې د ارتشاء او اداري فساد پر خلاف د مبارزې له اداري سره په لاندې مواردو کې همکاري وکړي :

۱- د نظروړ موضوعگانو د څېړنې په وخت کې د ارتشاء او اداري فساد پر خلاف د مبارزې د اداري مؤظفینو ته د لازمو اسانتیاوو برابرول .

۲- د غوښتنې په وخت کې د ارتشاء او اداري فساد پر خلاف د مبارزې مؤظفینو ته د لازمو معلوماتو او توضیحاتو ورواندې کول .

۳- د څېړنې په وخت کې د ارتشاء او اداري فساد پر خلاف د مبارزې د اداري له مؤظفینو سره د همکاری لپاره د مسلکي متخصصو کارکوونکو توظیفول .

همکاری ادارات :

مادهٔ نهم :

ادارات مکلف اند درتحقق اهداف مندرج این قانون با ادارهٔ مبارزه علیه ارتشاء وفساد اداری در موارد ذیل همکاری نمایند :

۱- فراهم آوری تسهیلات لازم برای مؤظفین ادارهٔ مبارزه علیه ارتشاء وفساد اداری حین بازرسی موضوعات مورد نظر .

۲- ارائه معلومات وتوضیحات لازم به مؤظفین ادارهٔ مبارزه علیه ارتشاء وفساد اداری عندالمطالبه .

۳- توظیف کارکنان متخصص مسلکی جهت همکاری با مؤظفین ادارهٔ مبارزه علیه ارتشاء وفساد اداری حین بازرسی .

۴- د مخکنیو څېړنو د پایلو د تحقق په هکله د رپوټ وړاندې کول او په هغه موده کې چې د ارتشاء او اداري فساد پر خلاف د مبارزې د ادارې لخوا ټاکل کېږي ، د واکمنو مقاماتو د لارښوونو او حکمونو تطبیقول .

### د لایحو تصویبول :

لسمه ماده :

د ارتشاء او اداري فساد پر خلاف د مبارزې د ادارې د رهبرۍ هیئت ، د دې قانون د حکمونو د ډېرښه تطبیق او د اړوندو څانگو د دندو د تنظیم په منظور لایحې وضع او تصویبوي .

### د اجراآتو محرمیت :

یوو لسمه ماده :

دارتشاءاواداري فساد پرخلاف دمبارزې د ادارې مؤظفین مکلف دي د سندونو او د ادارې د اسرارو له افشاء کولو څخه ډډه وکړي ، پرته لدې مرتکب تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي .

۴- ارائه گزارش درمورد تحقق نتائج بازرسی های قبلی وتطبیق هدایات واحکام مقامات ذیصلاح در میعادیکه از طرف ادارهٔ مبارزه علیه ارتشاء وفساد اداری معین میشود .

### تصویب لوایح :

مادهٔ دهم :

هیئت رهبری ادارهٔ مبارزه علیه ارتشاء وفساد اداری به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون وتنظیم وظائف شعبات مربوط لوایح را وضع وتصویب می نماید .

### محرمیت اجراآت :

مادهٔ یازدهم :

مؤظفین ادارهٔ مبارزه علیه ارتشاء وفساد اداری مکلف اند از افشاء اسناد واسرار اداره خودداری ورزند، درغیر آن مرتکب تحت تعقیب عدلی قرار می گیرد .

د تطبيق وړ جزايي حكمونه :

دوو لسمه ماده :

(۱) پدې قانون کې د درج شوو جرمونو مرتكبين،دارتشاءاواداري فسادپر خلاف دمبارزې داداري دكاركوونكو په ګډون دجزاءدقانون اونورو نافذوقوانينو دحكمونومطابق مجازات كيږي .

(۲) په هغهٔ صورت کې چې پدې قانون کې درج شوو سرغړونو ته دجزاء په قانون او نورو قوانينو کې مجازات اټكل شوى نه وي ، محكمه واک لري مرتكب د جرم د ارتكاب د حالاتو له په پام کې نيولوسره تعزير كړي .

د عدلي مراجعو دندې :

ديارلسمه ماده :

دعدلي او قضايي تعقيب مراجع او نورې اړوندې ادارې ، پدې قانون کې د درج شوو جرمونو په اړه له اړوندواجراآتوڅخه

احكام جزايى قابل تطبيق :

مادهٔ دوازدهم :

(۱) مرتكبين جرائم مندرج اين قانون به شمول كاركنان ادارهٔ مبارزه عليه ارتشاء وفساد ادارى مطابق احكام قانون جزاءوساير قوانين نافذه مجازات مى گردند .

(۲) درصورتيكه براى يكى از تخلفات مندرج اين قانون ،در قانون جزاءوسائر قوانين مجازات پيشبينى نگرديده باشد، محكمه صلاحيت دارد مرتكب را بانظرداشت حالات ارتكاب جرم تعزير نمايد .

وظايف مراجع عدلى :

مادهٔ سيزدهم :

مراجع تعقيب عدلى وقضائى وسائر ادارات ذيربط از اجراآت مربوط در مورد جرايم مندرج اين قانون در موعد

په ټاکلې موده کې د ارتشاء او اداري فساد پر خلاف د مبارزې ادارې ته خبر ورکوي .

**په دندو کې نه تداخل :**

**څوارلسمه ماده :**

د دې قانون حکمونه د نورو دولتي ادارو په نافذه تقنيني سندونوکې درج شوې دندې اوواکونه نه اخلالوي .

**نفاذ :**

**پنځلسمه ماده :**

دغه قانون د توشيح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې خپور شي .

معينه به ادارۀ مبارزه عليه ارتشاء وفساد اداری اطلاع ميدهند .

**عدم تداخل دروظايف :**

**مادۀ چهاردهم :**

احکام اين قانون وظائف وصلاحيت های مندرج در اسناد تقنينی نافذۀ سائر ادارات دولتی را اخلال نمی نمايد .

**نفاذ :**

**مادۀ پانزدهم :**

اين قانون از تاريخ توشيح نافذ و در جريدۀ رسمی نشر گردد .

# اشتراک سالانه

در مرکز و ولایات :(۵۰۰) افغانی

برای متعلمین و محصلین با ارائه تصدیق، نصف قیمت

خارج از کشور (۱۵۰) دالر امریکائی

قیمت این شماره :(۵۰) افغانی

نمبر تیلفون دیجیتل : (۲۱۰۳۳۷۵)

تیراژ چاپ : (۵۰۰۰) جلد

# TRANSITIONAL ISLAMIC STATE OF AFGHANISTAN

# MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

**Extraordinary Issue**

*The law of compaign against Bribery and Curruption*

ISSUE NO :838

Date : 11/ October/2004